# د رمضان روژه په چا فرض ده؟

لغة البشتو



# د رمضان روژه په چا فرض ده؟

پوښتنه:
د رمضان روژه په چا فرض ده؟

ځواب:
په یو تن باندي هغه صورت کې روژه فرض کیګي چې پنځه شرطونه پکي وموندل شي:

لومړی: مسلمان به وي.
دوهم: مکلف به وي.
دریم: د روژې نیولو توان به لري.
څلورم: مقیم وي.
پنځم: له موانعو نه خالي والی.

کله چې دا پنځه شرطونه په یو تن کي وموندل شي نو په هغه باندي روژه فرض ده.

په لومړي شرط سره کافر وواته، په کافر باندي نه روژه فرض ده او نه له هغه څخه صحیح کیږي، او که مسلمان شي نو قضایي راورل پري هم نشته، او د دې

خبرې دلیل د الله تعالی دا وینا ده:

﴿ وَمَا مَنَعَهُمۡ أَن تُقۡبَلَ مِنۡهُمۡ نَفَقَٰتُهُمۡ إِلَّآ أَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ وَلَا يَأۡتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمۡ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمۡ كَٰرِهُونَ ٥٤ ﴾ [التوبة: ٥٤]

او منع نه نکړل دوی چې ددوی نفقې قبولې شي مګر دا چې دوی په الله تعالی او د هغه په رسول باندې یې کفر کړی و او دوی لمونځ ته نه پاځیږي مګر په داسې حال کې چې دوی سست وي او دوی نفقه نه کوي مګر پداسې حال کې چې دوی نازړه وي ).

نو کله چې صدقات ددوي د کفر لامله نه نه قبلیګي حال دا چې فایده یې بل ته رسیږي. نو نور عبادات ترې په طریقه اولی نه قبلیګي.

او دا چې د اسلام راورلو وروسته پرې قضایي نشته، دالله تعالی ددي وینا د وجې نه چې فرمایي: ﴿ قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَنتَهُواْ يُغۡفَرۡ لَهُم مَّا قَدۡ سَلَفَ وَإِن ﴾ [الأنفال: ٣٨]

(کافرانو ته ووایه چې که چیرې دوي له خپل کفر نه منع شي نو د دوي مخکني ګناهونه به ورته وبخل شي).

دويم شرط:

چې مکلف به وي، او مکلف بالغ او عاقل انسان دی, ځکه کوچني والي او ليونتوب سره يو انسان په عباداتو نه مکلف کيږي .

او عاقل د ليونتوب ضد دی، چې عقل يې نه وي، يو ځوک چې عقل نه لري که هغه په هر وصف سره وي نو هغه په عباداتو مکلف نه دی. او په هغه باندې د دين کوم واجب هم نه وي، نه لمونځ، نه روژه او نه بل ته خواړه ورکول، يعني هغه په هيڅ صورت مکلف نه دی.

دريم شرط:

د روژو نيولو توان لرل، يعني د روژو په نيولو به قادر وي، اما ځوك چې د روژو د نيولو نه عاجزه وي هغه دې روژه نه نيسي، ځکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٖ فَعِدَّةٞ مِّنۡ أَيَّامٍ أُخَرَۚ ﴾ [البقرة: ١٨٤]

(او ځوک چې ناروغ وي او يا په سفر کې وي، نو د نورو ورځو نه دې روژه ونيسي)

لکن بيا د روژو نيولو نه عاجزي په دوه ډوله ده:

١- يوعارضي حالت دی هغه په مخکني آيت کې

ذکر شو؛ لکه ناروغ چې د ښه کيدو امید يې وي، او دارنګه مسافر، چې دغه خلکو لپاره جايز دي چې روژه ماته کړي او بيا يې قضايي راوړي.

دويم حالت: دايمي ناروغي؛ لکه هغه ناروغ چې په داسې مرض اخته وي چې له هغې څخه د ښه کېدو امېد نه وي، او هغه بوډا چې د روژو نيولو نه عاجزه وي.

او دا د الله تعالی په دې وينا کې ذکر شوی:

﴿وَعَلَى ٱلَّذِينَ يُطِيقُونَهُۥ فِدۡيَةٞ طَعَامُ مِسۡكِينٖۖ﴾ [البقرة: ١٨٤]

(او هغه څوک چې روژو نيولو کي ورته مشقت وي فديه دې ورکړي چې يو مسکين ته خواړه ورکول دي).

لکه ابن عباس رضي الله عنهما يې په بوډا او بوډۍ ښځې تشريح کړې چې که دوی روژه نشي نيولی نو د هرې ورځې په بدله کې دې يو مسکين ته خواړه ورکړي ".

## څلورم شرط:

چې مقيم به وي او که په سفر وي روژه نېول پرې واجب نه دي؛ ځکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٖ فَعِدَّةٞ مِّنۡ أَيَّامٍ أُخَرَۚ﴾ [البقرة: ١٨٤]

( او څوک چې ناروغ وي او يا د سفر کې وي، نو په نورو ورځو نه دې همغومره شمېر پوره کړې ) د علماء کرامو په دې اتفاق دی چې مسافر ته روژه خوړل روا دي.

د مسافر لپاره دا غوره ده چې په اسانه لاره عمل وکړي، که په روژه کې ورته ضرر رسېده دي وخت کې ورته روژه نيول حرام دي ځکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا ٢٩ ﴾ [النساء: ٢٩].

(او خپل ځانونه مه وژنئ، ځکه چې الله تعالی پر تاسو مهربان دی).

دا آيت په دې دلالت کوي چې څه شی انسان ته ضرر رسوي هغه ورته حرام دی.

که ووايي چې د هغه ضرر اندازه څه ده په کوم چې روژه حراميږي؟

ځواب دا دی:

ضرر د حس له مخې هم معلوميږي او د او خبر له مخې هم معلوميږي، لکه څنګه چې د حس له مخې

ناروغ پخپله دا احساسوي چې روژه ورته ضرر رسوي او د درد لامل کيږي يې، او په رغيدو وغيره کې ورته ځنډ راولي.

اما د خبر له مخې چې يو باوري او پوه ډاکټر ورته ووايي چې دا به هغه ته ضرر ورسوي.

## پنځم شرط:

له موانعو څخه خالي والی او دا په زنانو پورې خاص دی، حايضې-يعني مياشتني ناروغي جه لري- او په نفاس -يعني جه ماشوم يي فيدا شوي وي- ناروغه زنانه به روژې نه نيسي، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: " أَلَيْسَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ" [رواه البخاري]

(ايا داسې نه ده کله چې هغه حايضه شي نه لمونځ کوي او روژه نيسي؟

نو په حايضې باندې روژه واجبه نه ده او نه په اجماع سره د هغې نه صحيح کيږي خو په اجماع سره په هغې باندې قضايي واجبه ده.

وصلى الله على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين